مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: پروفیسور عبدالخالق رشید
رالیږونکی: احسان الله اریزی

۲۰۲۴/۰۳/۲۸

# د وردګو په جغرافیا کې

## زیات شمیرنومونه په زړه پښتو او سانسکریت

## پورې اړه لري

## میدان وردک ولایت د تاریخ په اوږدو کې

## وردک د تاریخ په بهیر کې سیمینار

## شپږمه مقاله

ډاکتر عبدالخالق رشید د غلام سخي رشيد زوی د غزني په رشیدانو (جغتو) کې زیږېدلی دی. ده خپلې لومړنی او ثانوي زده کړې د غزني په لیسه کې بشپړې کړي او په کال 1358هـ.ش کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي څخه د لسیانس ډیپلوم تر لاسه کړی او د کدر استاد په توګه منل شوی دی.
استاد عبدالخالق رشید په 1366 کې له کابل پوهنتون څخه ماستري اخستې او یو کال وروسته د فرهنګي شورې ریاست هم ورسپارل شوی دی.
په کابل کې د کورنیو جګړو په کلونو کې رشید لومړی پېښور او بیا هند ته لاړ او دوولس کاله (96- 2008م) یې د جواهر لال نهرو په پوهنتون کې تدریس کړی او په عین وخت کې یې له جامعه ملیه اسلامیه څخه په ادبیاتو کې دکتورا اخستې.
ډاکتر رشید له 2008- 2011م پورې په ډيلي کې د افغانستان فرهنګي آتشه و، دی په پښتو، دري، اردو، هندي او انګلیسي ژبو پوهیږي، دوولس چاپ شوي او 40 ناچاپه آثار لري. د ده دوه علمي کارونه (د مهاتما ګاندي ژوند او مبارزه) او (علامه اقبال او افغانستان پیژندنه) د هند په رسنیو کې ډېر ځلېدلي او د هند ځینو محصلینو د خپلې ماستري اودکتورا تیزیسونو د استاد تر نظر لاندې بشپړ کړي دي. دا تیزیسونه د افغانستان پیژندنې، د افغانستان ژبې او د دې دواړو هیوادونو تر منځ د فرهنګي ګډون په هکله لیکل شوي دي.
د استاد خالق رشید تر ټولو نوی کتاب د غازي محمد جان خان وردك په هکله دی چې د هند په آرشیفونو کې د انګلیسي اسنادو په رڼا کې لیکل شوی او خورا په زړه پورې او مستند مواد او معلومات لري.

افغانستان دبشري تمدن دتاریخ یو روښانه څپرکي دی، دغه لرغونی هیواد که په تاریخي لحاظ د دبیلابیلو قارو ترمنځ دپیوستون کړی بلل کیږي همداسي دبشري تمدنو په رامنځ ته کولو، پاللو او خوړولو کي یي هم موقعیت او شته والی په ځانګړې توګه دیادوني او ځیرني وړ دی، دا په دې چې دبشري تاریخ په دغه حساس جغرافیایی موقعیت کې ډیري داسي خبرې ترخاورو لاندې دي چې لاهم نه دي څیړل شوي، لاهم څیړنواو راسپړنو ته اړتیا لري، په دغه جغرافیایی موقعیت کې لاهم دنویوعلومو په مرسته ډیرنوي معلومات ترلاسه کیدای شي چې باید کارپړې وشي، دهمدغو نویو څیړنو په مرسته تحلیل او دبشري میراث په توګه ترسترګورو کسانو پورې ورسیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داوسني ساينس اوپوهې يوه دنده هم دحقايقو راسپړل اوپه دقيقه، مستنده اوسمه توګه دناويلو ويل دي. بيلابيل علوم که له يوې خوا دنويو پرمختګو په لور هڅه کوي، نوي کشفيات کوي په څنګ کې يې داهم اړينه بولي چې بايد دخپل اند وژوند، دخپل چاپيريال او جغرافيي پررازونو باندې هم پوهه اوحقايق په ډاګه کړي، نن سبا تاريخي او جغرافيايي څيړنې دانساني ژوند اودهغه دجغرافيې دلابښې پيژندنې په ترڅ کې يوبل مهم اصل دی چې که موږ وغواړو اوکه نه دغه اصل دنړۍ په نويو څيرنواوپرمختګونوکې په بهيرکې خپله ځانګړې وړتيا لري . په دغه څيرنه کې دځمکي پرمخ آسيايي ميراث د پخوانی ټاټوبی دميراث په حيث په عمومي او لرغونی افغانستان په ځانګړې اوڅرکنده توګه دپاملرنې وړدی، خکه نو دابه ډيره تصادفي خبره نه وي چې دهرنړيوال زورګيرځواک وس رسيدلی نو بيايي پردغه خوا رامخه کړې، اودآسيا په زړه کې ترټولو دمخه ددغه هيواد دنيولو تمه ورسره پيداشوې ده، له بده مرغه چې موږ دخپل هيواد په دغه رمز باندې تراوسه هم ځان پوه نه کړ اونه مو ددغو پرونيو او ننيو ظالمو ځواکونو ددغې حرصی تندي رمزاو راز په دقيقه توګه درک کړای شو. ددې لپاره چې خبره سياسي نه شي غواړم خپله خبره بيا له هغه ځايه راپيل کړم لکه چې يومهال دهند انګريزويسرای لارد کرزن کلونه مخکې زموږ د هيواد وجغرافيايي موقعيت په اړه ويلی وو :« افغانستان بايد دخپل جغرافيايي موقعيت مرهون واوسي ».

په هرډول، زموږ پخوانو پوهانو زموږ او نورو لپاره ډيرڅه ليکلی واو ويلي دي چې موږ يې په ډيرو تراوسه هم ناخبره يو، دا زموږ دنده ده چې هغو ته مخ ور واړو، هغه ولولو او دهغو په ويلو باندې له پيړيو پيړيو وروسته يوه علمی او مثبته کتنه وکړو که مو پروس پوره شوه بايد يو څه پرې ور زيات کړو اوکه داهم ونه شوه بايد لږ ترلږه خو يی نورو ته له تظاهره پرته و روپيژنو. زما لپاره هندوستان دعلومو اوانسانی علمي او کلتوری سرچينو په برخه کې دتيرې يوې دوو لسيزو په اوږدو کې يوه ښه او په زړه پورې بيلګه شو، په دغه هيواد کې د علمي څيړنو لړې په خورا شور اوزوږ سره مخ په وړاندې روانه ده، داجتماعی علومو په برخه کې دغه هيواد يوازنی هيواد دی چې دنړي دنورو هيوادو په انډول زيات دټولنيزو، ژبنيو، تاريخي، روانی او مذهبي څيړنو په برخه کې کارکوي، په لسګونو سيمنارونه او کنفراسونه ددغه هيواد په علمي موسسو او پوهنتونو کې جوړيږی او په زرګونو زده کونکي د ټولنيزو علومو په برخه کې په لوړو زده کړو بوخت دي. په دغه تاوده بازار کې هرکال په زرګونه کتابونه او آثار دتاريخی، ژبنيواو فرهنګی څيړنو په برخه کې ددغه هيواد په بيلابيلو ژبو باندې چاپيږي. تاريخي څيړني هم په هندوستان کې د دغه هيواد دبډايو سرچينوپه پام کې نيولو سره اوس هم خپل ځای لري داځکه چې دغه څيړني ددغه لرغوني هيواد او ګاونډيو سيمو دشته والي اوپيژندنی په برخه کې ترټولو ښه او د درناوي وړ څانګه بلل سوې ده. همداده چې هندي ليکوال تل دغزنی د دربار د نامتو ليکوال ابوريحان البيرونی دهندپوهنې له امله په درنښت يادوي اودهغه آثار په دغه برخه کې بی له شکه دخپل هيواد دتاريخ او فرهنګ ترټو لو دقيقه او علمي پانګه بولي. له دغې لنډې يادونې څخه مقصد او مطلب دادی چې موږ له هندوستان سره دتاريخ په اوږدو کې په يوه کلتوري اوفرهنګی حوزه کې اوسيدلي يو له همدغه امله زموږ د هيواد او خلکو په اړه ډيرې خبرې داسې هم شته چې موږ بايد دهغو په رڼا کې خپل ځان او خپل تيروګورو، په دغه برخه کې هم په لنډه توګه د وردګو دلرغوني سيمې چې دبودايی او شيوايی دورې دڅيړنو په برخه کې تر هند،چين،تبت اونورو سيمو مهمه او لرغونی بلل شوې ديوشميرنومونو په اړه چې له لرغونو زمانو تراوسه په يوڅه بدلون په خپل حالت پاتې دي لنډې خبرې ولرم.

**وردګ د سانسکريت ژبې په ويی پانګه کې :**

ماد دغازي محمدجان خان دکتاب په پيل کې دغه ټکي ته اشاره وکړه چې وردګو جغرافيايي نومونه په خپل وار ديوه اوږده تاريخي تسلسل کيسه له ځان سره لري، دغو نومونو ډيرکم توپير کړی او په ځينو وختو هرچا په خپله خوښه تفسيرکړي اومعرفي کړي دي، زه ددغه کار په اړه نه خوشبين يم او نه هم بدبين، دکليواو سيمو بدلولو دغه لړۍ دنړۍ په ډيرو برخوکې دود ده چې په هرزمانه کې دخلکو دځانګړو تمايلاتو استازيتوب کوي، په دغه کارکې ملي او مذهبي تمايلات او ليوالتياوې، ښکيلاکي فرهنګی نفوذ داټول عوامل خپل خپل ځای، اغيزاو اهميت لري. خو زما لپاره په دغه برخه کې دوه ټکي ډيرمهم ول، يوداچې دغو خلکو دغه نومونه تراوسه پورې په خپل هم هغه لومړي شکل ساتلي داپه خپل وارپه علمي لحاظ دا په ګوته کوي چې وردګ له کوم مهاله چې پردغه سيمه ميشته شوي تراوسه چاله دغه ځايه نه دي بې ځايه کړي، دوی داسې نه وو لکه دباميانواومرکزي افغانستان دنورو سيمو اوسيدونکي چې د يرغلونو په پايلوکې دلته ځای پرځای شوي اوپرناحقه په اوسنيو تاريخي سيمو کې دلرغونو اوسيدونکوادعا وې کوي او دويم داچې ددغو خلکو تاريخي سيمه ديوه لوی او نړيوال تمدن سره په تړاو کې دپاملرنې وړ ده چې دسيمې له بيلابيلوژبو، مذهبي اغيزو اوکلتوري وړتياوو سره په تاريخی، جغرافيوي، ژبني لحاظ ځان ترلای شي، او ددې امکان شته چې موږ او زموږ نوي نسلونه به پردي وتوانيږي چې په دغه برخه کې په نويو کشفياتواوپه دغه سيمه کې دبشری تير تمدن يو زيات شمير ناويلی نورې هم دنړې دعلمي موسسوپه واک کې ديوې بشرې ډالۍ په توګه ورکړو.مرکزي افغانستان په هغه کې يوشميرسيمې لکه وردګ،غزنی ، باميان، لوګر، پکتيکا، پکتيا، کابل او پروان، له شکه پرته د بودايی تمدن له خورا ځلاندو سميو څخه بلل شوي دي، په دغه برخه کې سره له دې چې لرغون پوهانو هم ډيرکار کړی اوپه دغه برخه کې ډيرې سيمې دبودايی تمدن دمهمو مرکزونو په توګه ثبت کړي دي، خو زه باورلرم چې دغه کار په خپل ذات کې اوس هم بشپړ نه دی. او تردې هم څوڅوځلې زيات



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

علمي کارته اړتیا لري، په دې چې دلته ډیرې داسې خبرې هم دي چې هغه ترزیاتې اندازې د ارادتي اوعقیدوي لیوالتیا پراحساسات شوې چې په علمي نړۍ کې زیات اهمیت نه لري، دبیلګې په توګه کلونه کلونه د وردګو په اړه دانظر و چې ګواکې دوی عرب او سیدان دي، خو زه وایم چې په دوی کې سیدان هم وو، بودایي ملایان هم، ستانه هم په کې وو دطریقت او تصوف نومیالي هم په کې وو، ان چې په شیوایي دوره کې وردګ دشیوایی تعلیماتو یولوی او مهم مرکزهم و، همداده چې تراوسه پورې دا آسیایی مذاهبو زیاتې نښې په دغه سیمه کې چې نن سبا د ( غزني، وردګ، بامیانو، لوګر، کابل ) په نومونو یادیږي خو وردګ په کې ترټولو مهم و لیدل کیږي. خو ارادتي لیوالتیا باید دومره هم نه وي چې دهغې په زړه کې دی یوقام خپل توکمیز شته والي او اصلیت پرته له دې چې په دغه برخه کې پرعلمي او باوري اسنادو باندې تکیه وشي له پوښتنې سره مخامخ کړي، زه نامتو مورخ بیلو له دغې خبرې په هیڅ ډول یوه خوله نه یم چې وردګ سیدان بولي، د دوی داډول خبرې یوازې پرافسانو او عامه خوشبینوباندې ولاړې دي، په داسې حال کې چې ده باید دیوه مورخ په توګه دامساله دبیلابیلو علوموپه رڼاکې څیړلې، تحلیل کړی او بیا یې دیوه علمي تیزسس په توګه په یوه علمي مرکزکې طرح کړې وای. دده دانظریه نه یوازې د وردګوپه اړه دپوښتنې وړ ده بلکه دنورو قومونو په اړه هم له کټ مټ انتقادسره مخامخ ده.دده خبره په دغه اړه داسې نقل قول شوې :

**“ THE TAJIK, or, as he is frequently called, the Parsiwan, constitute a numerous and widely spread portion of the inhabitants of Afghanistan, from whom they differ in language, internal government, and manners and customs. They are therepresentatives of the ancient Persian inhabitants of the country, as the Afghans are of its ancient Indian inhabitants. It would appear that as the Afghans (whose true home and seat are in the Kandahar and Arghandab valleys) mixed and intermarried with the Indian people whom they conquered, and gave their name to the mixed race, so the Arabs, who did the same with the Persian people whom they conquered, left their name as the national designation of their mixed posterity, that is, the name by which they were called by the Persians, Where the Arab progenitors were Sayyids, that is descendants of the Khalif Ali, son-in-law of Muhammad, they gave their own designation to the tribes sprang from them. There are several Sayyid tribes in Afghanistan, the principal being the** Wardak **andUshturani”( http://www.jatland.com/home/Wardak)**

موږ په تیره یوه لسیزه کې چې لویدیز زموږ پرهیواد د دموکراسۍ په نامه راوبلوسید، په علمي اواکادمیکه برخه یوکوچنی ګام هم پورته نه کړ، دوی که څه تحقیقات کړي، هغوهم یوازې دبیړنیو پروژو بڼه درلوده چې یوازې د یوه استخباراتو مرکز له خوا دیوې لنډې مودې لپاره تمویل شوې اوبیا ورک شوي دي، زموږ پوهنتونو بڼه ډیرشاګردان لري،خو له بده مرغه چې دغو لویدیځومعامله ګرو زموږ پریوه پوهنتون کې هم نه تدریس لپاره څه وکړل اونه هم دتحقیق لپاره، برعکس هغه څه چې موږ په دودیزه توګه ترسره کول هغه یې راته مسخه کړل اونوي خو یې ګرد سره پرې ور زیات نه کړل، همداده چې دم ګړۍ موږدنړۍ دعلمي پرمختګو له بهیرڅخه ډیرلرې پاتې یو اونه شو کولای دعلومو (طبعیی او ټولنیز ) په یوه برخه کې هم دځان لپاره ځای وموږو، همداده چې نړیوال په خپلو علمي محاسبو کې زموږ په باره کې، زموږ دتاریخ اوفرهنګ په باره کې د ړندو په شان لیکنې او قضاوتونه کوي، دروغ لیکي، دروغ وایي داسې چې موږ له هرپلوه پرځان اوخپلو فرهنګي میراثونو باندې شکي کوي، په تیره اوس چې انترنیتي آسانتیاوې زیاتې شوې، دکتابخانو دروازې مخ په تړلو دي، ځکه چې هرڅوک دانترنیتي تبلغاتي منابعو پرمعلومات باندې اتکا کوي چې په علمي لحاظ له هره پلوه نیمګړي او پراسنادو نه دي ولاړ. راځئ د وردګو په اړه دا دخندا وړ لیکنه هم یوځل ولولو:

**“ The Vardoji, or people of the Vardoj district, seem to have planted a colony, at some former period, in the vicinity of Ghazni, where their posterity are now represented by the** Wardak tribe**, not only from the similarity of names, but also from other corroborative circumstances, such as similarity of appearance, character, and habits. The** Wardak **are not Afghan nor Pathan by descent, nor Ghilzi, nor Hazara, nor Turk, nor Mughal ; by some they are reckoned Tajik, by others they are called Shekh, whilst themselves pretend**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**descent from the Arab Curesh. They speak the Pukhto, but in a corrupt dialect mixed with many foreign words, which may perhaps come from the Vardoj language”**
**( http://www.jatland.com/home/Wardak)**

داتول هغه څه دي چې په دغه اړه له یوې بشپړې ناخبرې څخه سرچینه اخلي، داسې چې په علمي لحاظ دپوښتنې وړده، خو دیوه منفي نظر په توګه باید په پام کې ونیول شی څوله انتقادي کتنې پریوه خوا پاتې نه شي. هغوی په تیره ځوانان چې په دغه برخه کې غواړي څیړنې وکړي، باید دې ډول بی باوره خبرو او طرحو ته چې د وردګو، دهغو خلکو په اړه چې دوی دافغانانو له مهمو قومونواوسټو څخه بلل کیږي په پخوعلمي دلایلو ځواب ورکړي.
دوردوج ویی له وردګ سره په هراړخیزه توګه یوشي نه شي کیدای او دانظریه نه په تاریخي، نه په جغرافیایی لحاظ له هغو علمي نظریاتو سره ځان عیارولای شي، هغه چې په دغه اړه تراوسه پوهانو ورکړې دي، په دغه اړه زما نظردادی چې :
« دوردګ ویی پرزړې پښتوبرسیره له سانسکریت سره هم په پیاوړې رابطه کې څیړل کیدای شی ، ماناداچې ددغې کلیمی په اړه اودوردګو په اوسنۍ جغرافیایي جوړښت کې ډیرنومونه داسې هم شته چې دهغو له مخې باید ددغې کلیمې دغه سانسکریتي مانا او توجیه په علمي څیړنو کې هم له یاده ونه ایستل شي.ترټولو ښه اوپه زړه پورې خبره داده چې پښتود خپل تکامل په تاریخ کې زیاتي کلیمې اوجوړښتونه سانسکریت ژبې ته د سانسکریت ژبې دهغو پوهانو په واسطه چې د دواړو (پښتو اوسانسکریت ) ژبو په باب یې معلومات درلودل ورکړي دي، اسپه زی (یوسفزی ) پانني یې یو ژوندی مثال دی. همداده چې د وردګ دکلیمې په اړه بیلابیل نظریات دبیلابیلو پوهانو له خوا ورکړه شوې خو په دغه برخه کې یوشمیرنورې خبرې هم دیادونې وړدی په لاندې ډول :
۱- دوردګ یاوردک ویی له ( ویو، وایو ) چې په سانسکریت کې د باد اوهوا مانا لریاو ( دک ) چې داوبو اواوبخورمانا لري هم تړلی دی ، مانا داچې هغه سیمه چې دښواوبو او ښې هوا لرونکې ده.
زه په دې باورنه یم چې داکلیمې به کره سانسکریت وي، خو په دې باوریم چې سانسکریت دغه ویي پرخپله ښه ترموړ پورې رارسولې دي او موږ هم تراوسه پورې ساتلي دي.ځکه دسانسکریت ژبې پوهان هم په دې نه پوهیږي او ورته حیران دي چې دغې ( سانسکریت ) ژبې یوشمیرمیلمانه ویی چې ددغې ژبې په پخوانیودوروکې نه لیدل کیږي څنګه او له کومې لارې راغلي دي. وګورئ، په سانسکریت کې د اوبو لپاره دود ویی (جل ) دی،خو داچې ( دک ) هم داوبو مانا لرې، او یا داچې په اوسنۍ هندي کې اوبه ( پاني ) بلل کیږي او (دک ) زیات دود اود ویلو وړ نه دی خو له دې سره سره سړی دا ویلای شي چې سانسکریت یوشمیر ویی له خپلې ګاونډۍ ژبې ( پښتو ) څخه په یوه تاریخي دوره کې پورکړي دي، چې اوس هغه دپښتو لپاره ناآشنا او نورو لپاره آشنا ښکاري لکه د ( دک ) او ( لکهنا- لیکل ) وییی که چیرې لږ ورته ځیرشو د ( دک ) یا ډک ویی اوس هم پښتانه داوبوهغه بندکې ته وایی چې کروندګراوکلیوال یې له اوبوڅخه دکروندو اوکلیو د ژغورنې په موخه دسیندونو پرمنځ اوغاړوباندې جوړوي،چې خبره یې بیا هم له اوبو سره په تړاوکې طرحه کیدای شي. دسندک په نامه یوسندګی اوس هم دهنددبیهارپه ایالت کې شته چې هلته هم ( دک) داوبوپه مانا کارول شوی دی، داچې پردغه سیمه د پښتنو میشت زیات و کیدای شي دپاتیدو لامل یې هم دا وي.
۲- د وردک ویی له ( وید او ویدا ) سره چې د (پوهې اوعلم ) په مانا دی هم تړاو لري چې کیدای د( ویدکولا) یا دویدونو سمبالونکي او پراختیا ورکونکی کول یا پاټکی هم ورته وویل شي ... اریایان چې کله هندوستان ته ورسید ل دوی د سراسوتی یاسواستی او ګنګا ترمنځ دیوه تمدن بنسټوال شول، دآریاناویجې دډیرو سیمونومونه یې له ځانه سره بهارت ته یووړل ، په بهارتا کې دآریایانو دیوې سیمې نوم ( وردها) و چې (ویدهاس) به کې اوسیدل، دوی ترزیاتې کچې د ویدونو مبلیغین او لارښونکي وو، ددغه ټکي یولامل داهم دی چې ویدونه او ویدیک سندرې د پوهانو د څیړنو پر اساس دهندوکش په جنوب کې ایجاد، دود اوله همدغه ځایه هند ته هم دهمدغه خلکو چې وردګان هم په کې راځي لیږدول شوې دي. د وردها سیمه دشمالي هندوستان داوسنی بیهارسره تړلې ده. ( ان ادوانس هیستری اف اندیا ۳۹ مخ )
۳ - ( ورودهک ) چې په پالي کې د (وردوبهه ) په بڼه ثبت دی دیوه پاچا نوم هم و چې د ( ۴۹۴ ق م ) په شاوخواکې په هندکې تیرشوی وایی چې ده غوښتل چې یومرکزیت جوړکړی اوټولې سیمې ترخپل نګین لاندې راولي... ( وګورئ د ال. باشم ، هندوستان کا شاندارماضی، ۱۹۹۸ دډیلی چا پ (۷۵ ) مخ ) داد شمالي هندوستان یولوی واکمن و چې پرشاکیانو باندې یې یرغل وکړ، هغو یی مات کړل، ددغه واکمن د واکمنې په ترڅ کې دبودیزم دخورلو په برخه کې زیات کوښښ شوې، له ده وروسته یې واک زوی ته رسیدلی دي ( رما شنکر ترپاتی، قدیم هندوستان کی تاریخ، ډیلی ۱۹۹۸ (۱۲۰ مخ )
سره له دې چې د وردګ ویي ډیرلرغوني ویی دی، اوماهغو سرچینو ته کتنه نه ده کړې هغه چې زموږ پخوانیو په خپلو لیکنو کې ویلي دي، له دې سره سره زه په دغه اړه بیاهم خپلې رایې ته دمطلقیت بڼه نه ورکوم اونه یې دکانې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کر بنه بولم، يوازې ديوې نظريي بنه لري چي کيداى شي دنورو څيړنو او ګرويږنو په ترڅ کي ياوده وکړي او ياهم په هيڅ حساب شي، په لاندې ډول :
د لومړي ټکي په اړه بايد ووايو چي زه ددغه ويي په جوړښت کي تر (ګ ) (ک ) ته لومړيتوب ورکوم داځکه چي ( ک ) په زياتو لرغونو نومونو او په دغه اړه څيړنو کي په لرغونوژبنيو سټوکي ليدل کيږي. بله داچي په دې کي شک نشته چي دښکلي هوا او ښکلو او بو په شته والي سره دغه سيمه په ټولو هندي، عربي اوفارسی منابعوکي ستايل شوي ده، يوه ټکي ته موپام وى اوهغه داچي دغه سيمه له اسلامي دورې راپه دېخوا دومره ورانه شوې چي دهغي د پخواني برم او ښکلا ډيره وره برخه هم اوس نه ده پاتي، ځکه دغه سيمه اودهغې وره برخه چي اوس د وردګو په نامه يادېږى چي هغه د( وايو+ دک ) له زماني اومانا سره هغه چي زما موخه ده توپيرلري، دوردک په آره جغرافيه کي باميان هم راځي چي ان تربودايي عصره يې په دغه سيمه کي ځانګړى پرتم اوتاريخ خوندي دى. او ترباميانو هم دوردګو په سيمه کي دبودايي او شيوايي دورې ډيرې مهمي بيلګي اوس هم خوندي دي. زما پراند د وردګ د ويي په اړه دغه توجيه ترډيره حده په دغه اړه سمه بريښي.
ترکومه ځايه چي له ماسره داوسني وردک دجغرافيي اوتاريخ په اړه نيم ونيمګور معلومات وو دهغو له مخي دالاندې نومونه چي سانسکريت ژبې ساتلي دي دلته په ګډه سره را اخلو او يوځه يې په باره کي ليکو:

۱- جغتو (Jaghatu) - له ( جګت) څخه راوتلی ويی دې چي مانايي کاينات يا انګريزي يونيورس دى، داسيمه د اوسنيو وردګو دسيمي زړه يادېږي تراوسه پورې چي په دغه اړه کومې ليکني شوي، په هغو کي ټولو همدايوه خبره کړې چي ګواکي دغه نوم له چغتاى چنګيز اوترکي ( جوغه، چوغه ، چيغه) اونورو نومونو سره تړاو لري، په داسي حال کي چي داسي نه ده، کيداى شي، په هغه توره دوره کي چي چنګيزي ځپاو پردغه خوا راغلى دوى اوياهم نورو دچغتاى نوم دځانګړو ناچاريو اوملحوظاتو له مخي پرځان باندې ايښى وي،خو داعلمى نه ده په دې چي ( جګت ) خورا لرغونى او ددغي سيمي له طبعيي جولې سره برابر نوم دى چي په سانسکريت او ان اوسنى هندي ژبه کي هم ژوندى او ورځن بول ويی دى.
۲- ګوربت ( ګره بته)(Garabata ) هم سانسکريت نوم دې چي ( بته، بتخ ) اوس هم په هندي ژبه کي ورځن بول ويی دى چي مانايي مارغه يا عقاب دى، دادهغه غره نوم چي دجغتو په زړه کي داوسني سلطان بند پرشمال باندې دنګ ولاړدى، ددغه غره پرشاوخوا زياتره نومونه چي آر يي په سانسکريت او هغي زړه پښتو چي موږ لږ پرې پوهيږو پورې اړه لري اوس هم ژوندي نومونه دي.
۳- کنده قول(Gandakola) - کندکولا، کند په سانسکريت کي خوشبويي او کولا، کورنى او قام اوکله کله سيمي ته ويل کيږي، دا دهغه کلي نوم دې چي دګوربت په غيږه کي پروت دى، اوس يې په ( ګلدره ) اړولی چي د ګندکولا پښتو ښکلی ژباړه ده. دپښتو ژبې نامتو خواخوږى اوليکوال اروابناد ارسلان سليمی هم ددغه کلی زيږدي دي.
۴- مدقولي ( ماتا کولا ) (Matakola) داهم دسلطان بند سره نږدى کلی دى چي اوس يي اوسيدونکو او کاتبانو ( محمدقلی ) ترې جوړکړى چي سم نه دى.
۵- سه ده (Saha or Asha) : په دوو مانا ده يوه ( دزمري ځايګی، ) او ياهم ( هيله ځاى ) د ( آسه ) مانا له هيلي سره سرلګوي. که ( سه ده ) په فارسی کي وژباړو، نوهيڅ ډول منطق نه جوړوي،ځکه دلته نه درى کلي شته اونه هم دومره لوى ځاى دى.
۶ - سپيرګين (Spirjina) يا سپيرجينه : ځوک او ياهغه ځاى چي دمارانو دم دعا په کي کيږي.
۷ - بره کولا (Barakola) : برغالى ، هغه پرګنه چي په لوړه وي.
۸ - الا کو (Alka)، هلاکو : چي آرشکل يي ( الکا) دى، دهماليا دغرونو لوړه څوکه ده. دغرونو ددغي لړۍ چي له برغالي مخ په لويديز تر رشيدانو پورې رسيدلې لوړه څوکه د( الاکو ) په نامه يادوي، ځيني وايی چي په سريې دهلاکو بابا زيارت هم دى، داچي زيارت دهرويارلي چا دى وي به، خو دغه نوم دچنګيزي هلاکو له نامه سره هيڅ ډول تړا نه لري، داچي دګوربت مقابل دغه غره لوړه څوکه د (الکا ) په نامه ياده شوې، دهماليا دنامتوغره ( دهند په شمال ) لوړه څوک هم (الکا ) په نامه بلل کيږي، په هندي ژبه کي دغه نوم دنجونولپاره دهغي دښکلا اوپرتم په لامل اينبودل کيږي.
۹- قول جينه : جينه کولا(Jinakola) : ژوند بښونکي پرګنه،
۱۰- جرګه (Jaruka) : وردګان جرګه هديرې ته وايی چي په سانسکريت (جروکه ده، چي له زګورت ( زيارت ) سره يوشان او يوه مانالري.
دهديرې ويی هم په مهابهارت کي د ( آيدوک) په بڼه راغلی دى او داسي دعاځاى ته ويل کيږي چي په پراخ ډګرکي وي، مانادا‌چي انګړ ونه لري.
۱۱- دايه (Daya) لکه په دايميرداد کي : چي د آرامی او هوسايی مانا لري.
۱۲- کلان ده (Karanda) يا کرانده ( په جغتوکي ) : د يوه مرغه نوم دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱۳- بیهکشو (بیک موش ) (Bihkshu) : له ځلوروعبادت کونکو ډلو یوه ډله یوه.بیهکشونی دیوه بودایی مونک نوم هم و.
۱۴- ایروانآ ( ایرپاو ) (Airavana) : هاتي، فیل،
۱۵ - موله (Mula) : خدايي ډوله
۱۶- بو تاتا دا :(Butathada) بوتاوکه یا بودتاوکا : د واقعیت په اړه پوهه ، بوتاوکه یوه بنه ( وینایکه ) هم لري چي مانا هاتي ډوله خدای (ګڼش) ده چي ترزیاتي اندازې له دغه (بوتاوکه ) سره نژدېوالی ښودلای شي. په دغه باره کي یوپراخ تحقیق ته اړتیا شته ځکه چي وردګ، کابل، لوګر، غزني، کاپیسا اویوشمیرنورې مرکزي سیمي د شیوایي مذهب ډیرې مهمي نښي نښاني له ځان سره لري.
۱۷- سوخواتي (Sukhavati)، خوات : جنت
۱۸ - اوتامسا (Avatamsa)، هفت آسیا : غمی لرونکي ګوتي،
۱۹ - وجره (Vajra)، وجیره، : د زده کونکو درسخونه
۲۰-وجره پني (پني) (Vajrapani) : حجره ساتونکی
۲۱- ورشیکه (Varshika)، ورسک : پیتاو
۲۲- دنه یا دانه (Dana): خیرات، زکات (پښتانه په تیره وردګان په خپل ګرودو کي دغه ویی سره ددانې او زرې په توګه کاروي، خو کله چي وایي دخدای په نامه کومه دانه مانه لري په دغه حال کي سرې په دغې باریکی سره چي په وردګي پښتوکي کارول کیږي پوهیدای شي ) دنه په جغتوکي دیوه کلي نوم هم دی.
۲۳- آدینه ( udana) (جغتو) : لوړتیا، ویاړ

اولبدین، یریاو، اوبتاله،چه کولا،ممه، مندی،عاشور یا ایشور، بموبی ، نرخ یا نرک ،لیله، او په سلګونو نور داسي نومونه دي چي یا خو نګه پښتو دي او یاهم سانسکریت لکه چي یوڅوبیلګي مویی ولوستي.
په دغه سیمه کي په سلګونو نورنومونه هم شته چي دهغو بنسټ هم له سانسکریت او زړې پښتوسره په هراخیزه توګه تړلي دي ان چي دوردګو په چم ګاونډ سیموکي هم په سلګونو ځای نومونه شته چي دهغو جرړې له زړې پښتو اوسانسکریت سره یوشی دي. لکه برکد (برکت ) ګڼنی یا ګجني ( غزنی )، شلګره، مقر، موکر، جاغوري، جاګوري، لومان، نومان، مالستانا، ناهور، واغز، جرمتو، او په سلګونو نور. داچي له ماسره د وردګو دسیمي دکلیو، کوتلونو او درونومونه اوپه دغه اړه کوم لیکلی سنددم ګړی نه و، نوځکه مي په همدغو یوڅونومونو چي زما په حافظه کي وو، بسنه وکړه.
وردګ دافغانستان په زړه کي دخپل مهم موقعیت اوترهغه هم مهم د ویدي سندرو د ایجاد اورامنځ ته کیدو دتاوبي او زانګوپه توګه دمستندو لرغونو سرچینوله امله له شکه پرته یوه لرغوني او عین حال کي په کلتوری اوفرهنګي لحاظ یوه بډایه سیمه ده، ویدی سندرې همدلته ایجاد شوي، هغه سندرې چي بیا وروسته زردشتیانو هم له هغو څخه دخپلو تعلیمات دښې پیژندګلوی اومعرفی له امله کاروا‌خیست لکه چي یوهندي لیکوال دنامتوتاریخ لیکونکي ویل درانت په حواله لیکي :

**“ Zoroaster adopted, not only numerous vedic ideas , but also copied in verbatim many of its verses. How can avesta show light to vedas, the much older scripture of India? It should also be remembered that like people of the Punjab, the Iranians were polytheistic where as Zoroaste was monotheistic , and his message is said to have influenced both Christianity and Islam. Will Durant accentuated the role of the vedic God 6ithra to give him the Iranian tinge. He also stole the vedic God Vayu , and dressed up Agni as Atar. ( T*he Vedic Civilisation ,2003 P 39)***

وردګ دافغانستان دیوې مرکزي سیمي په توګه روښانه راتلونکي لري اوډیرزر کیدای شي، دغي سیمي ته دنړۍاو سیمي دبیلابیلو دعلومو دبیلابیلو څانګو د کارپوهانو اوڅیړونکو پاملرنه ورواوړي، زه باورلرم چي که په دغه اړه افغانان په یوه ملي روحیه اوعلمي ورتیا دخپل هیواد دتاریخ او فرهنګ په برخه کي علمي فکروکړي، باور دی چي موږ به ډیرزر په هغو رازونو باندې هم پوه شو چي دم ګړی دلتهدحالاتو او ناخوالو له امله لاهم ناویلي او نا سپړلي پاتي دي ؟

سرچيني :

**۱ - ای.ایل. باشم ، هندوستان کا شاندار ماضی، په اردوژبه ، ډیلی ۱۹۹۸ کال**
**۲ - رما شنکر ترپاتي، قدیم هندوستان کی تاریخ، ډیلی، ۱۹۹۸ کال دویم چاپ**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

3- William Edward Soothill… A Dictionary of Chinese Buddhist Terms ,Delhi edition , 2005
4- ( http://www.jatland.com/home/Wardak)
5 -http://www.iranicaonline.org/articles/jagatu
6- An Advance History of India , Delhi 1997.
7- Anwar Shaikh , The Vedic Civilization , UK, 2003.
8- B.S. Upadhyaya, feeders of Indian Culture, Delhi, 1989.

د لیکلو کال: ۲۰۱۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ